د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه
د پلان او احصائي عمومي مديريت
پلان جوړوني عمومی کمیته

# ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پنځه کلن ستراستژيک پلان
## (1404 -1408 هـ ل)
# Urozgan higher Education institute's strategic plan
## 2025 – 2030

بسم الله الرحمن الرحيم

Ministry Of Higher Education
۱۳۹۱
URUZGAN INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION

## فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| 1 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام | 1 |
| 2 | ستراتیژیک مفهوونه | 2 |
| 3 | د محیطي لاملونو د تحلیل ماتریکس (IFEM) (Internal Factors Evaluation Matrix) | 2 |
| 4 | د بېروني لاملونو د تحلیل ماتریکس ( EFEM) (External Factors Evaluation Matrix: | 2 |
| 5 | داخلي او خارجي لاملونه: (IEM) (Internal and External Matrix): | 2 |
| 6 | سواټ:(SWOT) | 2 |
| 7 | د کمېټي ستراتیژیک پلان جوړوني ماتریکس: ( QSPM) Quantitative Strategic Planning Matrix | 3 |
| 8 | سریزه | 5 |
| 9 | پېژندنه | 5 |
| 10 | د تیري ستراتیژک پلان د وروسته پاته کېدو دلایل | 9 |
| 11 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د راتلونکي پنځه کلنو (1404-1408 هـ ش ) لپاره ستراتیژیک اهداف | 11 |
| 12 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې برنامې ( د لوړو زده کړو وزارت د لس اهدافو مطابق) | 11 |
| 13 | لومړی لویه مؤخه: علمي څېړنو او نوښتونو ته وده او پراختیا ورکول | 12 |
| 14 | دوهمه لویه مؤخه: د اداري ریفورم او ښې حکومتولۍ رامنځ ته کول او د اداري فساد له منځه وړل | 12 |
| 15 | دریمه لویه مؤخه: د تحصیلي نصاب ترتیب او بیا کتنه | 14 |
| 16 | څلورمه لویه مؤخه: د تحصیلي بنستونو د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو د معیارونو پلي کولو لپاره د زمینې برابرول | 15 |
| 17 | پنځمه لویه مؤخه: بریبنایي ښووني ته وده او پراختیا ورکول | 16 |
| 18 | شپږمه لویه مؤخه:د زیربناوو وده او پراختیا | 16 |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| 19 | اوومه لویه مؤخه:د ظرفیت لوړول | **17** |
| 20 | اتمه لویه مؤخه: د تخنیکي او حقوقي سندونو تعدیل، تآلیف او بیا کتنه | **18** |
| 21 | نهمه لویه مؤخه:د علمي او غیري علمي بنسټونو سره اړیکو ته وده او پراختیا ورکول | **18** |
| 22 | لسمه لویه مؤخه: لوړو زده کړو ته په عادلانه توګه لاس رسي درلودل | **19** |
| 23 | د چاپیریال تحلیل | **20** |
| 24 | د سواټ (SWOT) تګلاره | **25** |
| 25 | د ستراتیژیو غوراوي | **28** |

## فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيکي برنامې چوکاټ بندي | 4 |
| 2 | *لومړي جدول: د داخلي چاپېريال د عواملو تحليل* | 20 |
| 3 | *دوهم جدول: د بهرني چاپېريال د عواملو تحليل* | 22 |
| 4 | د داخلي عواملو د لومړيتوبونو جدول | 25 |
| 5 | د بهرنيو عواملو د لومړيتوبونو جدول | 26 |
| 6 | د سواټ د ماتريکس جدول (SWOT) | 26 |
| 7 | د سواټ د ماتريکس جدول | 28 |
| 8 | د QSPM په اساس د استراتيژيو اوليت بندي | 31 |
| 9 | ستراتيژيک اوليت بندي ټاکل | 41 |
| 10 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان په اساس د (1404 هـ ل) کال عملياتي پلان | 43-64 |
| 11 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان په اساس د (1405 هـ ل) کال عملياتي پلان | 65-84 |
| 12 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان په اساس د (1406 هـ ل) کال عملياتي پلان | 86-107 |
| 13 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان په اساس د (1407 هـ ل) کال عملياتي پلان | 108-126 |
| 14 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان په اساس د (1408 هـ ل) کال عملياتي پلان | 128-146 |
| 15 | ارزګان د لوړ زده کړو مؤسسې پنځه کلن (1404- 1408) بوديجوي پلان | 147 |
| 16 | د مالي پلان جدول | 148 |
| 17 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان د ارزونې چيک ليست | 153 |

## فهرست



| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| 1 | د رتوبو پر اساس د استادانو فیصدي | 6 |
| 2 | د تحصیلي درجې په اساس د استادانو احصائیه | 7 |
| 3 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د 1403 کال تشکیلاتي جوړښت | 8 |
| 4 | د داخلي عواملو د ارزونې د ماتریکس وروستی نمرې (2.77) | 25 |
| 5 | د بهرني عواملو د ارزونې نمرې (2.54) | 25 |

## 1. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

**الحمدالله رب العلمين، الذي بعث رسوله بالخلق العظيم و جعله قائدا للمجاهدين والصلوة والسلام علي من أتم مكارم الأخلاق و امربها الي الحكام والمجاهدين وعلي اله واصحابه الذين هم قدوةالأمة في اعلاء كلمة الله الي يوم الدين.**

هغه سازمانونه چې مؤخه يې د اوږدې مودې لپاره د خپلو برياليتوبونو خوندي کول او لا پياوړي کول وي، نو هغوئ لومړي خپل مسير ټاکي، د تصاميمو او سرچينو په مديريت کښې لا ښه والي راولي او همدارنګه د خپلو کړنو موثريت لوړوي، چې دا پورته ذکر سوي کړني په يوه خاص او منظم پلان کښې ځاي پر ځاي کيږي کوم چې د يوې منظمي پروسې په نتجه کښې رامنځ ته او په واسطه يې لومړيتوبونه ټاکل کيږي، انرژي او سرچيني متمرکزي کيږي، اطمنان رامنځ ته کيږي چې کارمندان او ښکېل اړخونه د سازمان د لرليد په لور کار کوي او د دې سره سره په چاپيريال کښې د تغير د رامنځ ته کېدو په حالت کښې د سازمان د کړنو طرز او مهال وېش ټاکي، چې داسې يو منظم او اوږد مهاله پلان په اصل کښې ستراتيژيک پلان دئ.

چې د ستراتيژيک پلان پورته اهميت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم د خپل دوهم ستراتيژيک پلان د تدوين په درشل کښې د فرصتونو، ګواښونو، قوت او ضعف هر اړخيزه تحليل وروسته د راتلوونکي پنځو کالو (1404-1408 هـ ش ) په جريان کښې خپل لرليد ته د نيژدې والي مسير د دې ستراتيژيکي مسودې په واسطه تعينوي.

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د (1404-1408 هـ ش ) کلنو د ستراتيژيک پلان د دې نسخې د تدوين په پروسه د ټولو شاوخوا 100 تنو اداري او کادري پرسونل او په خاص ډول د ستراتيژيک پلان د ځانګړي کمېټې څخه مننه وکړم، چې شپه او ژرخ يې د معلوماتو په راټولولو، تحليل او اوډنه کښې زحمت ګاللي دئ.

په اخير کښې د سپيڅلي رب ﷻ په دربار کښې د دې پلان د تطبيق په مؤخه د توفيق غوښتلو دوعا کوم.

**سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم وصلي الله علي خير خلقه اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين**

**په ډېر ادب**
**مولوي رحمت الله رحماني**
**ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رئيس**

## 2. ستراتیژیک مفهومونه

**مفاهیم :**د ستراتیژیک پلان د برنامې پلې کیدا چې د پوهنتون/موسسې د چارو د سمون او پرمختګ لپاره ډېر اړین دي .
په لاندي کرښو کښي به د برنامې هره برخه تعریف او وسپړل سي.

**پروګرام:** پروګرام د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده چې د اړینو سرچینو، مهالویش، دندي او نوري کړني څرګندوي.د پروګرام موخه، وخت، د چا له خوا کومې مرجع ته او په څومره وخت کښي باید عملي بڼه او اغیز وښايي.

**ستراتیژي:** یوه ځانګړې طرحه ده چې د تحصیلي بنسټ د موخو د لاسته راوړلو لپاره د یو ځانګړي فکر او څرګندي موخي پر بنسټ په اکاډمیکو ساحو کښي عملي کیږي. هره ستراتیژي په خپله کاري ساحه کښي د ځانګړې پالیسی او موخي پر بنسټ پر مخ وړل کیږي، په یاد پروګرام کښي ټولي ستونزي جوتي کیږي چې د حل او پرمختګ لپاره یې ځیني پلانونه او طرحي جوړیږي.

**ستراتیژیک پروګرام:** په دغه ستراتیژیک پلان کښي لومړي د ځانګو په کچه ستونزي، وړاندیزونه او ځیني طرحي ذکر کیږي او بیا ورته په تولیزه بڼه د پوهنتون /موسسې په عمومي ستراتیژیک پلان کښي د یو منظم میکانیزم له مخې د حل لاره لټول کیږي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو داسي علم، هنر او د مدیریتي پریکړو ټولګه ده چې سمون شوو موخو ته د رسیدلو لپاره محیطي لاملونو ته په پام سره ترسره کیږي.

**سمون:** سمون د ستراتیژیک پلان یو پړاو دئ چې لاندي برخي لري:
د لیډلوري ځانګړي کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عوامل( داخلي او خارجي ) د ستراتیژیک حالت او ممکنه ستراتیژیو ټاکل د لومړیتوبونو تعین او مشخص کول.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دویم پړاو دئ چیلاندي برخي په کښي شاملي دي:
د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهاله موخو معلومول، کلني عملي پلان، د بودیجې سمون، د پوهنتون / موسسې د فزیکي جوړښت لپاره طرحې، د اجرایوي پالیسیو سمون، د پوهنتون / موسسې رهبری د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړي کول.

**ارزونه:** ارزونه د ستراتیژیک پلان دریم پړاو دئ چې د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو سره سم د پوهنتونونو/موسسو د کړنو د عملي کولو لپاره یو میکانیزم جوړیږي.

**لیډلوري:** د یو پوهنتون /موسسې ذهني یا تجسمي انځور ته وایي چې غواړي د خپلو کړنو په پایله کښي یې تر لاسه کړي.

**ماموریت:** د پوهنتون / موسسې د شته والي یو داسي ذریعه ده چې له نورو پوهنتونونو سره یې توپیر په ډاګه کوي .ماموریت باید روڼ او د پوهنتون / موسسې چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** عبارت له هغو ټکو څخه ده چې د ټولو اکاډمیکو کړنو پایله اخستنه ترلاسه سي. موخي باید د لاسته راوړني او ننګوني وړ وي او یو ټاکلي وخت په بر کښي ونیسي او د څېړني لاري چاري یې باید ځانګړي وي او دغه موخي تر ډېره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه په خپله د پوهنتون / موسسې منل سوي اصول دي چې د دې پر بنسټ د پوهنتون/ موسسې ماموریت او موخي ترلاسه کیږي. په ټوله کښي د پوهنتون /موسسې ارزښتونه هغه اصول او لارښووني دي کوم چې د پوهنتون /موسسې د پریکړي نیولو، پراختیا او حرکت لوري ټاکي.

**د محیطي لاملونو د تحلیل ماتریکس: (IFEM) (Internal Factors Evaluation Matrix)**
داخلي لاملونو هغه عناصر دي چې د پوهنتون / موسسې په داخلي برخو پوري اړوند وي او د بهرني لاملونو په خلاف د اداري د مدیریت او کنټرول لاندي وي او په دوه برخو ویشل کیږي، پیاوړتیاوي او کمزورتیاوي چې د محیطي لاملونو د تحلیل له مخي تجزیه او تحلیل کیږي.

**د بیروني لاملونو د تحلیل ماتریکس: ( EFEM) (External Factors Evaluation Matrix**
دپوهنتون /تحصیلي موسسې د لوي چاپیریال تجزیه او تحلیل، د کړنو څېړنه، په پوهنتون /موسسې کښي رامنځ ته سوو ګواښونو او فرصتونو تفسیر او مشاهده د چاپیریالي لویو لاملونو له مخي. نو په همدې بنسټ پوهنتون /د لوړو زده کړو موسسه خپل لوي محیط د تجزیې او تحلیل ته په کتو په بېلابیلواقتصادي، سیاسي، قانوني، ټولنیز، فرهنګي، فني او نړیوالو ساحو کښي بدلونونه او تغیرات په پام کښي نیول کیږي اوبیا دغه عوامل د څېړني لاندي نیسي چې د بهرنیو لاملونو تحلیل ماتریکس په پاملرني سره یې تجزیه اوتحلیل کوي.

**داخلي و خارجي لاملونه : (IEM) (Internal and External Matrix):**
دا ماتریکس د داخلي او خارجي لاملونو د پرتلني او پلي کیدا په برخه کښي یو له چمتو ابزارو څخه ګڼل کیږي چې د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسې د ستراتیژیک حالت ټاکني او د وړو ستراتیژیو ټاکني لپاره لاره برابروي.

**سواټ:(SWOT)**
سواټ د پیاوړتیاوو (Strengths) کمزورتیاوو (Weakness) فرصتونو (Opportunities) او ګواښونو (Threats) مخففه بڼه ده. او دا تګلاره د استراتیژیو د تدوین او چمتو کولو د ابزارو څخه ګڼل کیږي. له دې تحلیل څخه په ګټي اخستني دا امکان برابریږي

چي لومړي داخلي او خارجي چاپيريالونه په کښي تجزيه او تحليل سي، او په دويم ګام کښي ستراتيژيکي پريکړي نيول کيږي تر څو د اداري پياوړتياوي له محيطي فرصتونو سره متوازني سي.

**د پياوړتيا ټکي:** له ممتازي وړتيا څخه عبارت ده چي په وسيله يې يو پوهنتون / لوړو زده کړو موسسه کولي سي د مالي سرچينو، د اخيستونکو تر منځ ذهني مثبت انځور او د تامينوونکو سره مثبتي اړيکي او نور ګڼ اړخونو په پام کښي نيولو سره تنظيموي.

**د کمزورتيا ټکښي:** په سرچينو، مهارتونو، امکاناتو او وړتياوو کښي يو ډول کموالي او محدوديت څخه عبارت دي چي په محسوسه توګه د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسي د کړنو د اجرا مخنيوي کوي.

**فرصت:** د هر ډول بهرني عامل څخه عبارت دي چي د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسي سره د ماموريت په لاسته راوړلو کښي مرسته کوي. يا په بل عبارت فرصت يو پټ ظرفيت دي چي ورڅخه په ګټي اخستني سره پوهنتون /لوړو زده کړو موسسه مثبت لوري ته وده کوي او د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسي لپاره د ليدو وړ مثبت تاثير لري.

**ګواښ:** د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسي په بيروني چاپيريال کښي د نامطلوبي بريا ميزان ته وايي لکه د بنسټيزو تامينوونکو او اخيستونکو د چنو وهلو وړتيا، د ټيکنالوژۍ د ناڅاپي او عمده تغير او نور موارد چي کيداي سي د پوهنتون /لوړو زده کړو موسسي په لاره کښي عمده ګواښ وګڼل سي.

**بريدګره ستراتيژيګاني (SO):** پوهنتون/د لوړو زده کړو موسسه د دې ستراتيژيو په چوکاټ کښي د داخلي پياوړو ټکو څخه په ګټي اخيستني سره هڅه کوي چي له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

**ځان ساتونکښي ستراتيژيګاني (WO):** له دي ستراتيژۍ څخه موخه شته فرصتونو څخه په ګټه اخيستني داخلي کمزورو ټکو ته پياوړتيا ورکول دي.

**رقابتي ستراتيژيګاني(ST):** پوهنتونونه /لوړو زده کړو موسسي د دې ستراتيژيو په لاره اچولو سره هڅه کوي چي د پياوړتيا ټکو په کاروني په بيروني چاپيريال کښي د شته ګواښونو اغېزې کمي کړي او يا يې له منځه يوسي.

**دفاعي ستراتيژيګاني(WT):** پوهنتونونه او لوړو زده کړو موسسي د دې ډول ستراتيژيو په کاروني سره دفاعي حالت غوره کوي او موخه تري د داخلي کمزورو ټکو کمول او د بيروني چاپيريال له ګواښونو څخه ځان ساتنه ده.

**د کميتي ستراتيژيک پلان جوړوني ماټريکس: Quantitative Strategic Planning Matrix (QSPM)**

له دي تګلاري څخه په ګټي اخستني د ستراتيژيګانو بيلابيلي برخي پيژندل کيږي او د پلي کېدو پر مهال د ارزوني لاندي نيول کيږي. دا ماټريکس د هري ستراتيژۍ لپاره لومړيتوب ټاکي. د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو مديران او پلان جوړونکي د استراتيژيو نسبي راښکون او لومړيتوب ته په پام د غوره ستراتيژۍ د ټاکني په اړه بريکړه کوي. د دې تګلاري په واسطه کولي سو له ډول ډول ستراتيژيګانو څخه وړ او مناسبه ستراتيژي غوره او وټاکو.




1 -شکل :ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ ښيي.

## 3. سریزه

پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسات په اصل کښي محلي او ملي ارزښت نه بلکي یو نړیوال اهمیت لري، چي د هر پوهنتون/لوړو زده کړو مؤسسي د لرلید څخه واضیح ښکاري چي داسي یو هدف یې ټاکلي دي چي د خپلو هڅو په نتجه کښي به یوه ورځ د نړي د غوره تحصیلي بنستونو په قطار کښي راڅرګند سي، په همدې اساس باید د ټولو تحصیلي نهادونو کړني او خدمات د نړي د اوسني ټکنالوژیکي، ساینسي پرمختګ، علمي نوښتونو او نورو هغه کړونو مطابق وي چي وکولاي سي د یوه نهاد د نړیوال کېدو او د اوسني عصرد پرمختګونو څرک په کښي موجود وي.

د بله اړخه د ټولني هغه اړتیاوي او ستونزي چي په تحصیلي بنستونو پوري یې جواب موندل اړه لري هم منعکس او د حل لپاره یې د وخت او امکاناتو په ساحه کښي میکانیزم موجود وي، کوم چي په مذهبي او کلتوري ډول تصادم ونلري.

او د دې سره سره دریم بُعد خپله د تحصیلي سازمان بقآ او پر داسي یو استقامت ور برابرول دي چي و کولاي سي په تحصیلي ډګر کښي یې فعالیتونه او نقش په خورا څرګند او د هر اړخه معیاري او منل سوي وي، چي دا برخه په اصل کښي د یوه تحصیلي نهاد د پورته ذکر سوي ماموریت په کامیابي سره تر سره کول او د مستفیدینو او ښکیل اړخونو د تقاضا د پوره کولو ضمانت کوي.

باید وویل سي چي 403 لمریز کال کی ارزګان د لوړو زده کړو د بنسټ پر غاړه د داسي درووند مسؤلیت شتون لازمي کوي چي تحصیلي بنسټ په خورا دقیق او منظم ډول په یو باب اداری تعمیر کي فعالیتونه تنظیم کوي څلور پوهنځیو (ښوونه اوروزنه، کرهنه،کمپیوټر ساینس او شرعیات) فعلاً 11 یولس فعاله څانګي لری کرهنی پوهنځی اړوند 5 پنځه علمی څیړنی (اګرانومی،باغداری) او کمپیوټر ساینس پوهنځي د Is یا معلوماتی سیستمونو اړوند مختلفی پروژي د دویمی اداراتو لپاره تکمیل کړیدي د اړتیا په صورت کي تشکیلات د رهبری غړو لخوا کنټل او د وړاندیز په موخه شریک تر څو هیڅ یو حرکت یې د ټاکل سوي لرلید د لاري څخه غیر نه وي او نه هم د ټاکل سوي لرلید د تر لاسه کولو په ملاتړ کښي بې برخي وي، چي دا چاره یوازي او یوازي د یوه هر اړخیزه او خورا دقیق ستراتیژیک پلان په واسطه شوني ده او بس.

بنآ ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه خپل لرلید ته د رسېدو لپاره د راتلوونکي پنځه کالو(1404-1408 هـ ش ) په جریان کښي خپلي کړني په یوه داسي ستراتیژیک پلان کښي ځاي پر ځاي کړي دي، چي د هر اړخه دقیق، منظم او د ښکیلو اړخونو د نظریاتو او وړاندیزونو پر بنا ولاړ دي. نوموړي پلان چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي د ستراتیژیک پلان د کمېټي له لوري د لوړو زده کړو قدرمن وزارت د ستراتیژیک پلان د لارښود مطابق د لسو اهدافو په رڼا کښي ترتیب سوي دي چي په خپل ترکیب کښي د راتلوونکي پنځه کلنو کړني او د تیر ستراتیژیک پلان یو لړ پاته فعالیتونه په خپل محتوا کښي لري.

باید ووایو چي د دې پلان د جوړېدو په جریان کښي د مؤسسي داخلي او خارجي محیط ټول هغه فکتورونه چي دا نهاد اغیزمنوي په نښه ، تجزیه او تحلیل سوي دي وروسته د نهاد اړوند چاپیریال په نظر کښي نیولو سره فعالیتونه تعین او په عملیاتي پلان کښي یې ځاي پر ځاي سوي دي.

هیله لرو چي الله ﷻ یې د تطبیق قوت را په برخه کړي او خپل دي زوریدلي ولس لپاره یوه اندازه تحصیلي خدمات چي وکولاي سي تر یوه بریده د ستونزو د حل جوګه سي وړاندي کړو.

## 4. پېژندنه:

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه چي د هیوادپه کچه یو ځوان تحصیلي بنسټ دي په کال 1391 هـ ش کښي تآسیس سوي او فعلاً د پنځو ورځنیو پوهنځیو (ښوونه او روزنه، کرهنه، کمپیوټر ساینس، شرعیات او اداره او عامه پالسي ) او د ښووني او روزني پوهنځي په چوکاټ کښي د یوې شپني برنامې درلودونکي ده،

دا تحصیلي بنسټ خپل لومړي دوه فارغین په کال 1394هـ ش کښي ټولني ته وړاندي کړل او د ذکر سوي نیټي څخه یې تر دي دمه سلګونو فارغین په مسلکي ډول روزلي او ټولني ته یې د خدمت په مؤخه وړاندي کړي دي، باید وویل سي چي په ارزګان ولایت کښي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه یوازني تحصیلي بنسټ دي چي د لوړو زده کړو په برخه کښي خدمات وړاندي کوي.

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په دوه موفعیتونو کښي خدمات وړاندي کوي چي یو یې مرکزي کمپس دي چي د ترینکوټ ښار په شمال د عیدګاه دښت په خپل 500 جریبه ځمکه باندي ودان یو اداري او تدریسي ودانۍ کښي او بل یې د ښووني او روزني او کمپیوټر ساینس پوهنځیو کمپس دي چي د ترینکوټ ښار په جنوب کښي د پوهني ریاست په تعمیراتو کښي ځاي پر ځاي دي.

UROZGAN INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION

چي په تولو پوهنځيو کښي په مناسب ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي رهبري د خپلو استادانو، اداري کار کوونکو او محصلينو لپاره په کيفيت او کميټ انټرنيټي خدمات، منظم سولري او ډيزلي برق، مجهز صنفونه، صحي خدمات او نظيف چاپيريال برابر کړي دي، چي په اساس يې روزانه تدريسي، اداري او اکاډميکي چاري منظمي رواني دي.

باید ووایو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د نوښت په نوم د ساينسي علومو يوه مجله لري چي دوهم چاپ يې تر کار لاندي دي او د ذکر سوي بنسټ استادان کولاي سي په ياده برخه کښي خپل علمي مقالي نشر ته وسپاري.

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي د لوړو زده کړو قدرمن وزارت د سترتيژيکو موخو او د مؤسسي د لرليد او ماموريت تعقيب او تطبيق خپل لومړيتوب بولي او اوسني ستراتيژيک پلان يې پر همدې مؤخو راتاويږي.

په عمومي کښي ولاي سو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه چي يو نوي تحصيلي بنسټ دي د کندهار پوهنتون په شان د يو شمير لويو او کوچنيو تحصيلي سازمانونو ملاتړ لري او ټول هغه موارد لکه د استادانو تقرر، ترفيعات، يو شمير لابراتواري ټيستونه او داسي نور موارد يې د شوي تفاهم ليکونو پر بنسټ په لويو پوهنتونونو کښي تر سره کيږي.

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه شاوخوا (1586) تنه محصلين لري چي په بېلابيلو پوهنځيو کښي په تحصيل بوخت دي او همدارنګه پر دي د استادانو شمير ( 62) دي چي د رتوبو او تحصيل اړوند معلومات يې په لومړي او دوهم شکل کښي د مشاهدي وړ دي، پر دي سر بيره يې د اداري کارمندانو شمير (32) تنه دي چي په بېلابيلو برخو کښي په اداري چارو بوخت دي او د خدماتي کارکوونکو شمير يې (35) تنه دي.

باید ووایو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو محصلانو لپاره د نورو تحصيلي بنسټونو برعکس ځانګړي ټرانسپورټي خدمات لري، همدانګه محصلينو ته د بدل عاشي تر څنګ د اوسېدو ځاي هم د مؤسسي په مالي لګښت په کرايه ورته نيول سوي او شاوخوا 400 تنه محصلين د دي خدماتو څخه برخمن دي.

قابل ذکر ده چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د پورته خدماتو سر بيره لا هڅه کوي چي د خپلو محصلينو، استادانو، اداري او خدماتي کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په برخه کښي لا مخکښه اوسي او د نورو سهولتونو د برابرولو اړوند موارد يې د دي ستراتيژيک پلان محتوا تشکيلوي.




لومړي شکل: د رتوبو پر اساس د استادانو فيصدي




دوهم شکل: د تحصیلي درجي په اساس د استادانو احصائیه

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د 1403 کال تشکیلاتي چارټ



## 5. د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژک پلان د تطبیق او نه تطبیق دلایل:

- **تطبیق دلایل:**

د تیر ستراتیژیک پلان د تطبیق په جریان کښي یو شمیر لاسته راوړني سته چي عمده یي د کمپیوټر ساینس او عامه اداري پوهنځي دي او د دې سره سره د شپي برنامې رامنځ ته کول دي، د علمي مجلې ایجاد او د تضمین کیفیت د لومړي مرحلي په بریالیتوب سره کسب دي، همدارنګه په اداري او زیربناً برخه کښي هم د 500 جریبه ځمکي باندي د یوې تدریسي او اداري ودانۍ جوړول دي.

- **د نه تطبیق دلایل:**

ولي پاته دي نه وي چي یو لړ فعالیتونه چي د مؤسسي د پرمختګ لپاره خورا لازم وه، د تکامل تر سرحده ونه رسېدل یا بېخي پیل نه سول چي ځان ته خاص غټ دلایل لري او موږ یي په دې ستراتیژیک پلان کښي په لاندي ډول یادونه کولای سو.

1. د کرونا نړیواله وبا د دې سبب سول چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي1.8 میلیونه ډالر تعین سوي رقم د همدې وبا د مخنیوي په مؤخه مصرف سي.
2. د خصوصي شرکتونو له لوري د پلان مطابق د کارونو نه تر سره کول چي دا کار د دې سبب سو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د ښووني او روزني پوهنځۍ یوه دری پوړیزه ودانۍ مطلق جوړه نه سول.
3. د مؤسسي په داخل کښي د ستراتیژیک پلان د تطبیق په برخه کښي همږغي د نه رامنځ ته کېدو د قوي کموالی.
4. اررګان د لوړو زده کړو مؤسسي کښي د کافي بشري قوې نه شتون.

| په پورته ډول د 1399 الي 1403 پورې د ستراتیژیک پلان د پرمختګ راپور ترتیب او وړاندې کیږي | | |
|---|---|---|
| شمیره | عمده ستونزې | د حل لارې |
| 1 | د انټرنیټ کموالی | د لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ دې مالي او اداري چارو معاونیت د ټولو پوهنځیو لپاره انټرنیټ فعال کړي |
| 2 | د دوکتورا د بورسونو کمبود | د لوړو زده کړو وزارت دې په داخل کښې د دوکتورا برنامې زیاتې کړې |
| 3 | د تقرر پروسې سخت توالې | مد اړوند مؤسسې غړې ته دې د امتحان د په پروسه کښې صلاحیت ورکړل سي |
| 4 | د کتابونو کمښت | بیولوژۍ، کیمیا، انګلیسي، ریاضي، فزیک، پښتو، اګرانومي او باغداري کتابونه ، کمپیوټرساینس پوهنځي کتابونه ، تعلیمات اسلامي او فقه او قانون |
| 5 | د لابراتور نه شتون | په ټولو پوهنځیو کښې دې تخصصي لابراتوارونه جوړسي |
| 6 | ورزشي سامان نه موجودیت | د ورزش لباس، د ورزش بوټونه ،د کرکېټ بیټونه او بالونه ،د فوټبال او والیبال بالونه او د ورزش اړوند ټول سامان الات |
| 7 | د ورزشي میدانونو کمښت | نلري |
| 8 | د څېړني د پروژو لپاره د مالي منابع کمښت | د څېړنیزو پروژو لپاره دې بودیجه راکړل سي |
| 9 | د تشکیلات کمښت | د علمي او محصلانو چارو معاونیت اداري او کادري تشکیل دې زیات سي |
| | د اوبو شبکې نه موجودیت او شنې ساحې کمښت | |
| 10 | د معیاري خوړنځاي نه شتون | |
| شمیره | عمده لاسته راوړنې | په کلني پلان کښې د شاملېدو دلایل |
| 1 | 29تنه استادانو ته د وزارت مقام لخوا د اوبي اي او ایس سي ایل سمینار دایریدل | |
| 2 | د نقلیه وسایط زیاتوالی | |

## 6. لرلید:

ارزګان لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې، د اسلامي ارزښتونو، نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره معیاری تدریس، څیړنو او تحصیلي خدمتونو وړاندي کولو پرمټ، د علمي او متخصصو کادرونو په روزلو سره، په ملي کچه یو معتبر تحصیلي بنسټ واوسي.

## 7. رسالت:

ارزګان لوړو زده کړو مؤسسه د معیاري تدریس، علمي څیړنو او عصري ټکنالوژۍ له لارې، د اسلامي ارزښتونو په پام نیولو سره د ټولنې ودې او پرمختګ په پار د تحصیلي خدمتونو په وړاندي کولو سره د علمي کادرونو او متخصصینو د روزنې په برخه کې خپل مسؤلیت ادا کوي.

## 8. ارزښتونه:

1. د ولس مادي او معنوي پرمختګ او ودې لپاره ټینګ هوډ .
2. دبشر او انساني ژوند لوړ مقام ته درناوی .
3. خپل دود او فرهنګ ته وده ورکول .
4. مسلکي او معیاري زده کړې .
5. دهرډول سمتي ، قومي ، او ژبني تبعیض څخه ډډه کول .
6. په کارونو کې روڼ والی او فساد مخنیوی .

## 9. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د راتلونکي پنځه کلنو (1404-1408 هـ ش ) لپاره ستراتیژیک اهداف

دا چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د نوي ستراتیژیک پلان په درشل کښې ده نو لازم بلل کیږي چې د راتلوونکي پنځو کالو لپاره د مؤسسې اهداف تعین سي، څو د دې اهداف په تر لاسه کولو سره د مؤسسې لید لوري ته نیژدې سو او همدارنګه د یوه تحصیلي بنسټ هغه نورمونه او معیارونه چې په ملي کچه ټاکل سوي دي را خپل کړو، چې پورته ذکر سوي نقاطو ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د (1404-1408 هـ ش ) کلنو ستراتیژیک اهداف په لاندې ډول دي.

1. علمی څیړنو ته پراختیا ورکول.
2. اداری او رهبری سیستمونو پراختیا او د فسا د منځ وړل.
3. د تحصیلي نصاب ترتیب او بیا کتنه
4. علمی اعتبار تر لاسه کول اود کیفیت ښوالی
5. الکترونیکی ښووني ته وده او پراختیا ورکول
6. زیربناو د برخې ته پراختیا
7. کادری او اداری کارمندانو ظرفیت لوړول .
8. د تخنیکي سندونو ترتیب او بیا کتنه
9. د علمی او غیری علمی بنستونو سره اړیکو ته وده او پراختیا ورکول
10. لوړو زده کړو ته په عادلانه توګه لاس رسی درلودل.

## 10. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې برنامې ( د لوړو زده کړو وزارت د لس اهدافو مطابق)

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د لسو لویو اهدافو مطابق خپل د راتلوونکي پنځو کلنو (1404-1408 هـ ش ) کړني یه دپلان کښې تنظیم کړي دي او همدارنګه به هڅه وکړي چې د دې لویو اهدافو په تعقیبولو سره د مؤسسې تعین سوي ستراتیژیکي مؤخې را خپل کړي، چې په لاندې ډول د هر هدف مطابق کړنې په نښه سوي دي.

## .1 10- لومړۍ لویه مؤخه: علمي څېړنو او نوښتونو ته وده او پراختیا ورکول:

دا چې څېړني او نوښتونه په هیواد او ټوله نړۍ کښې د تحصیلي بنسټونو لومړنۍ او اساسي دندي دي او د همدې څېړنو او نوښتونو په واسطه یو تحصیلي بنسټ کولاي سي د مربوطه ټولني او حتا د نړیوالو ستونزو لپاره د حل لاري ومومي او د بل اړخه د یوه تحصیلي نهاد اهمیت هم د څېړنیزو کړونو په واسطه تشخیص کېدای سي، نو په همدې اساس ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کښې لري چې د دې لوی هدف مطابق لاندې کړني تر سره کړي.

1) د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د ټولنیزو علومو د یوې مجلې جواز تر لاسه کول.
2) د څېړنو اړوند د مؤسسې د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړول.
3) د څېړني او علمي مجلې امریت لپاره د لازمو امکاناتو برابرول.
4) د پوهنځیو په سطحه د معیاري لابراتوارونو او څېړنیزو توکو د سهولت رامنځ ته کول.
5) د څېړني اړوند برخو کښې د بشري قوې زیاتول.
6) د سکتوري برخو او لوړو زده کړو بنسټونو سره د ګډو څېړنیزو اړتیاوو په نښه کول او ګډې څېړني تر سره کول.
7) د زون او ولایت په کچه د علمي کنفرانسونو په لاره اچول.
8) د نوښتګر او ممتازو محصلینو لپاره فزیکي او مالي امکانات برابرول.
9) د نوښتونو د حمایه او ترویج د یوې کمېټي ایجادول.

## .2 10- دوهمه لویه مؤخه: اداری او رهبری اړوند سیستمونو ایجاد او د فساد د منځ وړل:

### 10.2.1- رهبري:

څرنګه چې یوه سمه او مؤثره رهبري د یوې اداري اړتیا ده او د لرلید سره د اداري د نیژدېوالي سبب کیږي، نو په همدې خاطر د یوې سالمې اداري د رامنځ ته کولو په پار ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلوونکي پنځه کلنو کښې د رهبری لپاهر یو لړ روزنیز سمینارونه په پام کښې نیولي دي چې په لاندې ډول یادونه ځیني کېدای سي.

1) د مؤسسې رهبري هئیت ته د رهبری د پیاړوتیا په پار د لازمو سمینارونو په لاره اچول.
2) د پوهنځي رهبري ته د رهبری اړوند لازم سمینارونه په لاره اچول.
3) د محصلینو د رهبری مهارت د لوړولو په خاطر هڅي کول.

### 10.2.2- مالي، اداري او علمي خپلواکي

#### 10.2.2.1- مالي خپلواکي:

ټول دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسات مکلف دي چې د مالي خپلواکۍ لپاره هڅي وکړي، چې همدا هڅي کولای سي یوه ورځ په تحصیلي بنسټونو کښې د استقلالیت وړتیا پیدا او په ازاد ډول د خپلو اړتیا او وړتیا مطابق پروژې ډیزاین او تطبیق کړي چې دا چاره مرسته کوي یو تحصیلي نهاد د طفیلي حالت څخه نیمه طفیلي او بلاخره مستقیل کړي.

او بل د نړۍ په کچه د لوړو زده کړو د بنسټونو خپلواکي دا فرصت برابروي چې یو تحصیلي بنسټ د نړیوالو پروژو په تطبق کښې خپل رول اداء او د نړیوال Ranking او Internationalization په برخه کښې مرسته کوي، چې د نورو ملي تحصیلي بنسټونو په شان ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم هڅه کوي چې په راتلوونکي پنځه کالو کښې خپل کړني داسي تنظیم کړي چې حد اقل د مالي خپلواکۍ پر مسیر د ور برابریدو وسیله سي کوم چې په ملي کچه هم د اعتبار اخستي په پروسه کښې یو اړین فکتور دئ او د 11 ګونو معیارونو د تطبق په برخه کښې مؤثره تماميږي.

د مالي خپلواکۍ پورته ارزښت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم دې مؤخي ته د رسېدو په پاره هڅه کوي چې یو لړ کړني تر سره کړي، چې وکولاي سي تر یوه بریده د ذکر سوي برخو د خپلواکۍ په ساحه کښې مرسته وکړي، چې د یو شمېر څخه یې په لاندې ډول یادونه کېداي سي.

1) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه به د خپلو اړتیا څخه د اضافي املاکو یوه برخه په اجاره ورکړي.
2) د عایدداتي سرچینو د پیدا کېدو په پار به هڅي کوي.
3) په علمي برخو کښې داسي میکانیزمونه جوړول چې په واسطه یې د عوایدو موندلو ته لاره هواره سي.

### 10.2.2.2- اداري خپلواکي:

اداري خپلواکي هم د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو لپاره په بېساري ډول ضروري او مهمه ده، چي د دې په واسطه د لوړو زده کړو د بنسټونو په کارونو کښي سرعت، مفیدیت او د وړتیا پر بنسټ د ګمارني تضمین رامنځ ته کیږي، باید وواېو چي د اداري خپلواکۍ په تر لاسه کولو سره يو تحصیلي نهاد د مکمل ځان بسیاینې و طرف ته نیژدې کیږي، چي په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم هڅه کوي څو په دې برخه کښي د لوړو زده کړو قدرمن وزارت په اجازه يو لړ هغه کړني تر سره کړي چي د اداري ازادۍ په طرف د دې نهاد هدایت کول وي.

### 10.2.2.3- علمي خپلواکي:

علمي خپلواکي په تحصیلي سیستم او په خاص ډول د لوړو زده کړو په بنسټونو کښي خورا ډېر ارزښت لري چي باید په دقیق ډول پاملرنه ورته وسي. او د دې خپلواکۍ په راخپلولو سره يو تحصیلي نهاد کولای سي چي اداري او مالي خپلواکي تر لاسه کړي، څکه چي نوري ازادي په پیاوړي، د تحصیل او رتبو په اساس لوړه او باتجربه بشري قوې په واسطه تر لاسه کیږي، نو دې ټکي ته ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي رهبري متوجې ده او د علمي خپلواکۍ په طرف به د راتلوونکي پنځه کلونو په جریان کښي اړین ګامونه اوچت کړي، چي د يو شمېر څخه يې په لاندي ډول يادونه کیږي.

1) د شته علمي برنامو ته پراختیا ورکول.
2) د يو شمېر تحصیلي مرکزونو او سکتوري برخو سره تړامینونه او د ګډو همکاریو تفاهم لیکونه لاسلیکول.
3) ټولو پوهنځي لپاره د مسلکي او تخنیکي سهولتونو د رامنځ ته کولو په خاطر هلي ځلي کول.
4) د الکترونیکي زده کړو په پار لازم اقدامات تر سره کول.
5) د تدریس د ملي او نړیوالو تګلارو په خاطر ښکېل اړخونو ته روزنه ورکول.
6) د کتابخوني په برخه کښي د لازمو خدماتو برابرول او د الکترونیکي لارو څخه په استفاده د لاس رسي زیاتول.
7) د تحصیلي نصاب په برخه کښي د خپل صلاحیت مطابق د ټولني د ستونزو د حل په مؤخه تعدیلات راوستل.
8) په علمي برخه کښي د نورو لازمو کړونو تر سره کول.

### 10.2.2.4- د اداري فساد څخه مخنیوی کول:

څرنګه چي د يو منل سوي اصل په اساس ویل کیږي چي اداري فساد د اداري د حیثیت، وړتیا، پر اداري باور له منځه وړي او په عموم کښي د اداري د فلج سبب کیږي، نو په همدې اساس ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د دې بېکاره کړني په وړاندي د تل په څېر د خپلو راتلوونکو پنځه کلنو په ستراتیژیک پلان کښي خاص کړني په نظر کښي نیولي دي چي وکولاي سي د دې اداري ټول اړخونه، منابع او خدمات د فساد څخه خلاص او مستفیدینو ته د يو شفاف اداري، علمي، او مالي چوکاټ تضمین رامنځ ته سي، چي د دې مؤخي د تر لاسه کولو لپاره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسسه په راتلوونکي پنځو کالو کښي لاندي کړني په نظر کښي لري.

1) په هیواد کښي د اسلامي امارت له لوري د ټولونافذه قوانینو تطبیقول.
2) د لوړو زده کړو محترم وزارت اړوند ټولو مقرراتو، لوایحو او لارښودونو تطبیق، تعقیب او نظارت کول.
3) د اداري، اخلاقي او د فساد د نورو ډولونو په اړه د پوهاوي پروګرامونه په لاره اچول.
4) د اسلام له نظره د فساد زیانونو او پر ټولنه يې د منفي اثراتو په اړه د دیني علماوو له لوري د بیانونو او سمینارونو ارائیه کول.
5) د ټولو هغه برخو لپاره شفاف میکانیزمونه جوړول چي په قوانینو کښي تعریف نلري.
6) د مجازاتو او مکافاتو د اصل تطبیق.
7) په سیتستماتیک ډول د ټولو ادارو او ماتحت نظارت تر سره کول.
8) ټولو هغه ټکنالوژیکي وسائلو څخه استفاده کول چي د فساد د مخنیوي په برخه کښي مفید تمامیږي.( Digitalization)
9) د فساد د مخنیوي په مؤخه د يوې خاصي کمېټي چي فعلاً موجوده ده حمایه کول.
10) د شکایاتو لپاره د يو هوسا او د لاس رسي وړ میکانیزم رامنځ ته کول. (د شکایاتو صندوق)

### 10.2.2.5- اداري بیوګراسي:

اداري بیوکراسي په اداراتو کښي یو له ډېرو مهمو ستونزو څخه شمېرل کیږي، چي په اصل کښي د فساد، کارونو د بطي کېدو او په عموم کښي پر یوې اداري باندي د اعتماد د کمېدو وسیله ګرځي او له بل پلوه د زیاتي بیوکراسي شتون په یوه اداره کښي زمینه برابروي څو د نړیوالو منل سوي معیارونو سره د اداري فاصله رامنځ ته کړي، چي دا کار زموږ په هیواد کښي ټول اداري سیستمونه تر پوره اغېزې لاندي نیولي دي، نو د دې لپاره چي ټولي چاري په سم او منظم ډول تر سره سي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه یو شمېر کړني د خپل راتلوونکي پنځو کالو په جریان کښي په نظر کښي نیولي دي چي په واسطه به یې دا نهاد د بیوکراسۍ څخه فاصله پیداکړي، چي ذکر سوي فعالیتونو څخه په لاندي ډول یادونه کېداي سي.

1) د یو شمېر برخو لپاره منظم الکترونیکي سیستمونه جوړل.
2) د الکترونیکي لارو څخه په استفادې د مؤسسي اړوند ټولو برخو یو له بل سره وصلول.
3) په اداري پروسو کښي د غیري ضروري او غیري لازمي کړونو څخه مخنیوي کول.
4) په مالي برخو کښي د شته بریښنایي سیستم (AFM S) څخه استفاده کول.
5) د محصلینو د نتایجو، فعالیتونو او سوابقو په برخه کښي د لوړو زده کړو وزارت د HEMIS سیستم ته لومړیتوب ورکول.
6) E-Governance د ترویج لپاره هڅه کول.
7) د الکترونیکي سیستمونو منظم نظارت تر سره کول.
8) د الکترونیکي سیستمونو د کاروني او نه کاروني په خاطر د مجازاتو او مکافاتو تطبیقول.

## 10.2.2.6- د عملیاتي پلان:

د دې لپاره چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي ستراتیژیکو مؤخي را خپل سي نو لازمي ده چي د ستراتیژیک پلان د تطبیق فیصدي لوړه سي، چي د ستراتیژیک پلان د تطبیق فیصدي د کلني عملیاتي او یا تطبیقي پلانو د تطبیق په فیصدیو پوري تړاو پیدا کوي. او باید ووایو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو راتلوونکي پنځو کلنو د ستراتیژیک پلان د تطبیق په مؤخه د عملیاتي پلانونو په واسطه لاندي کړني په نظر کښي لري.

1) د مؤسسي عملیاتي پلانونو ترتیب، تائید او د مربوطه برخو سره شریکول.
2) د عملیاتي پلان د تطبیق په خاطر مربوطه برخو ته لازم امکانات برابرول.
3) د عملیاتي پلان د تطبیق نظارت او څارنه تر سره کول.
4) د عملیاتي پلان د تطبیق په خاطر د ټولو ښکېلو برخو څخه راپورونه راټولول.
5) د راپورونو د تجزیه او تحلیل وروسته لازم اقدامات تر سره کول.
6) د عملیاتي پلانونو د نه تطبیق سویو برخو لپاره تطبیقي/تدابیري پلان ترتیبول.
7) د کال په وروستیو کښي د عملیاتي پلان د اجراء راپور وړاندي کول.

## 3. 10- دریمه لویه مؤخه: د تحصیلي نصاب ترتیب پراختیا او بیا کتنه:

دا یو منل سوی اصل دئ چي ټول تحصیلي بنسټونه د وخت د مارکېټ د تقاضا سره سم خپل تحصیلي خدمات په خاص ډول تحصیلي نصاب عیار کړي، څو تولید یې په مارکېټ کښي جذب او مؤثره تمام سي، چي په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کښي لري چه په راتلوونکو پنځو کلونوکښي د مؤسسي په کچه د ټولو څانګو کریکولمونو د بازار، ټولني او سیمي غوښتنو ته په کتو سره نوي او سمون پکښي راولي، د دې سره به وتوانېږو چه د کارد مارکېټ د غوښتونو سره سم بشري ځواک ټولني ته وړاندي کړي، چي په دې برخه کښي لاندي کړني په نظر کښي دي.

### 10.3.1- د نصاب ارزونه او تطبیق

1) د تحصیلي نصاب د ارزوني اصلي او فرعي کمېټې حمایه او پیاوړي کول.
2) د کمېټې اړوند پرسونل ته د تحصیلي نصاب د کتني او ارزوني په پار لازم سمینارونه وړاند کول.
3) د لوړو زده کړو وزارت له لوري د تأئید سوي تحصیلي نصاب څخه استفاده کول.
4) په کریکولم کښي د صلاحیت او اړتیا مطابق تغیرات راوستل.
5) د کریکولم په مکمل تطبیق کښي هڅه کول.
6) د ټولو پوهنځیو اړوند څانګو د تحصیلي نصاب د تطبیق څخه نظارت او څارنه کول.
7) د اړتیا په صورت کښي لوړو زده کړو وزارت ته د تحصیلي نصاب د تعدیل، تغیر، اضافه والي او کموالي په مؤخه وړاندیز کول.

## 10.3.2- د درسي او مدرسي مواد ترتيب:

څرنګه چې پورته ذکر سول چې د مارکېټ د تقاضا سره مطابق يو تحصيلي نظام او نصاب د تحصيلي مراکز عمده دنده ده، نو کله چې د پانو پر مخ يو منظم او د ټولني د تقاضا مطابق نصاب ولرو، لازمي بلل کيږي چې بايد د همدې نصاب د تطبيق لپاره د درسي او کومکي موادو په تهيه کښي هم کار وسي، څو په واسطه يې د يو پاشلي او غيري منظم تدريسي توکو د تدريس څخه مخنيوی سوی وي او محصلينو لپاره د منابعو ساحه را محدوده سوې وي، بايد وواېو چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه پورته ذکر سوي اصل ته په کتو په خپل پنځه کلن ستراتيژيک پلان کښي يو لړ فعاليتونه په نظر کښي لري څو د تدريس د پروسې لپاره د درسي او مدرسي مواد په برخه کښي کار وسي، چې دا فعاليتونه په لاندي ډول را خلاصه کيږي.

1) د مؤسسې اړوند استادانو ظرفيت د تآليف او ترجمې په برخه کښي لوړول.
2) د استادانو لپاره د تآليف او ترجمې په برخه کښي لازم امکانات برابرول.
3) ټول استادان تنبح کول څو د ټولو مضامينو د تحصيلي مفرداتو مطابق چپټران وليکي.
4) د تحصيلي نصاب د ارزوني اصلي او فرعي کمېټې پياوړي او مسلکي کول.
5) د نصاب د اصلي او فرعي کمېټو په واسطه د ټول چپټرانو او مفرداتو د مطابقت څخه څارنه تر سره کول.
6) اطمنان تر لاسه کول چې وړېشل سوي درسي او کومکي توکي د مضمؤن د هدف تر لاسه کوونکي دي.
7) پر داسي يو طرحه کار کول څو په اساس يې هر استاد د خپل اړوند مضامينو د تدريسي او کومکي موادو د تهيه توان پيدا کړي.

## 4. 10- څلورمه لويه مؤخه: علمی اعتبار تر لاسه کول اود کيفيت ښوالی څارنه تر سره کول:

ټول تحصيلي بنسټونو هڅه لري چې خپل امکانات، بشري قوه، خدمات او نور سهولتونه په داسي معيارونو برابر کړي چې ملي او نړيوال تعريف ولري. او په دې سره د خپل رقابت ساحه پراخه کړي. بايد وويل سي چې د همداسي ملي او نړيوالو ادارتو پر معيارونو تګ او سير نيول د يو ه تحصيلي بنسټ په وړاندي د ښکيلو اړخونو او مستفيدينو اعتماد لوړيږي، اهميت يې صعود ته رسيږي او بلاخره د يوه مطرح، ملي، نړيوال يا دواړه موقفونه را خپلوي، نو په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم هڅه کوي چې د هيواد په تحصيلي نظام کښي د ملي اعتبار د تر لاسه کولو په پار د ارزوني کومي پروسي موجودي دي پر ټولو برخو عملي او د وخت په تېرېدو يې د ملي اعتبار سره د وصل نقطې د تقرب تضمين موجود سي. چې په راتلوونکي پنځه کلنو کښي لاندي کړني په نظر کښي نيول سوي دي.

### 10.4.1- د کيفيت لوړاوي:

1) د مؤسسې په کچه د تضمين کيفيت سره د بلديت په مؤخه د ټولو کمېټې روزل.
2) د اعتبار د تر لاسه کولو د لومړي مرحلې د سند د حفظ په مؤخه کړني تر سره کول.
3) د تضمين کيفيت په پروسه کښي د ښکيلو ټولو بروخو د ظرفيت د لوړوني په مؤخه لازم ګامونه اوچتول.
4) ټول ښکيل اړخونه هڅول څو د تضمين کيفيت د معيارونو مطابق کړني تر سره کړي.
5) د تضمين کيفيت او اعتبار ورکووني د پروسي د 11 ګونو معيارونو تطبيق ( پرټولو برخو).
6) د دوهمي مرحلې لپاره لازم اقدمات تر سره کول.
7) د دوهمي مرحلې لپاره د ارزونکي تيم را بلل.
8) د دوهمي مرحلې کسبول.
9) د رهبرئ له لوري د تضمين کيفيت د پروسو څخه د نظارت په مؤخه لازم اجرات تر سره کول.

### 10.4.2- د څارني او ارزوني پياوړي کول:

د دې لپاره چې په يوه اداره کښي د رسالت په تکميل سره لرليد ته د رسېدو/ تقرب تمه وجود ولري نو د ماموريت د يو اصل په ډول په ټولو چارو کښي منظم، متداوم او د پر نتجه ولاړ د څارني او ارزوني د يو ميکانيزم شتون يو خورا اړين فکتور دئ، چې په اساس يې د ټولو فعاليتونو تآثير د سازمان پر ستراتيژۍ او مؤثريت په نتجه کښي تضمينيږي.

قابل د يادوني ده چې هره برخه ځان ته د څارني او ارزوني يو ځانګړی میتود لري چې په واسطه يې خاص فعالیتونه، په خاصو وختونو او د خاصو افرادو په واسطه څارل کیږي، چې پر همدې بنسټ ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د ماموريت د څلورم اصل په نظر کښي نيولو سره د ټولو برخو د څارني او ارزوني چاره د ځانګړو میکانیزمو او خاصو صلاحیت لرونکي مامورينو په واسطه تر سره کوي، څو په واسطه يې د کارونو مؤثريت تضمين، قوتونه حمايه او کمزورتياوي په نښه او د له منځه وړولو په پاره يي لازم اقدامات تر سره سي، چې د راتلونکي پنځو کلنو د څارني او ارزوني اړوند کړني په لاندې ډول را خلص کيږي.

1) ټولو برخو ته د خپل مسؤليت مطابق صلاحيت ورکول.
2) په اوليه چارو کښي ټول اداري او کادري پرسونل متوجي کول څو د دقت څخه کار واخلي.
3) د خاصو او عمومي څارني او ارزوني لپاره کمېټي ايجادول.
4) د څارني د اوصولي او لازمي میکانیزمونو څخه استفاده کول.
5) د مکافاتو، مجازاتو ارتقأ ظرفيت او نورو اړينو کړونو تطبيقول.

## 5. 10- پنځمه لويه مؤخه: الکترونيکی ښووني ته وده او پراختيا ورکول:

دا چې اوسنی نړۍ ورځ تر بلي مخ په Digitalization ده او ټولو سکتورونو باندي ټکنالوژي او برېښنايي سيستمونو اغېزي د پام وړ دي، چې دا حالت سازمانونه او کمپني مجبوري څو د نړی سره د همزلي کېدو په خاطر ټولو هغو برخو کښي چې برېښنايي کېدو ته اړتيا لري لاس په کار سي، او د بل پلوه د سيستمونو/خدماتو برېښنايي کېدل په اصل کښي د تحصيلي سازمانونو د پرمختګ وسيله ګرځي، په خاص ډول د لوړو زده کړو برخي چې د برېښنايي کېدو په طرف يي حرکت خورا سريع او د اوسني عصر يو اړين تغير دئ چې بايد راوستل سي، چې د لوړو زده کړو په برخه کښي د برېښناني زده کړو ( ښووني) موضوع په دې وخت کښي د تحصيلاتو سرتکي جوړوي، بنآ د برېښنايي زده کړو دي اهميت او اوليت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه يو شمېر چاري په خپل راتلوونکي پنځه کالو کښي پلان کوي چې په لاندي ډول دي.

### 10.5.1- برېښنايي سهولت:

1) د برېښنايي زده کړو د اصلي او فرعي کميټو پياوړي، او حمايه يي کول.
2) د برېښنايي زده کړو لپاره لازم امکانات برابرول.
3) د HEMIS الکترونيکي سيستم څخه پوره ګټه اخستل.
4) د برېښنايي زده کړ په خاطر يو شمېر روزنيز پروګرامونه په لاره اچول.
5) هڅه کول څو برېښنايي زده کړو په رامنځ ته کېدو سره د خپلو امکاناتو په دائره کښي د زون اړوند تحصيلي بنسټونو سره د سالم رقابت رامنځ ته کول.

### 10.5.2- معلوماتي ټکناولوژی ته لاس رسی:

معلوماتي ټکنالوژي په اوسني عصر کښي د ژوند يوه برخه سوې ده، چې د همدې ټکنالوژي په برخه کښي د تحصيلي مرکزونو تر منځ يو قوي رقابت رامنځ ته سوی دئ، بايد ووايو چې ټکنالوژي د اوسني ژوند هري برخي، لکه صحت، کرهڼه، صنعت او نورو ټولو برخو ته شامله ده، که وغواړو هم ممکنه نده چې د ټکنالوژي څخه د خلاص ژوند شاهد وموړو.

په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو په مراکزو کښي د ټکنالوژي استعمال او لاس رسی يو عامه خبره ده او بايد شتون يي تضمين سي، چې په دې برخه کښي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو راتلوونکو پنځو کلنو په پلان کښي د معلوماتي ټکنالوژي په برخه کښي د لاندي خدماتو د موجوديت هوډ لري.

1) د معلوماتي ټکنالوژي په اړه مربوطه برخو ته لازم سمينارونه/ ورکشاپونه برابرول.
2) د مؤسسي ټولو ساحو ته د CCTV Surveillance په واسطه پوښښ ورکول.
3) مرکزي کمپس او نورو پوهنځيو اړوند شعبات د Digital ټيليفونونو په واسطه سره وصلول.
4) د مؤسسي ټولو برخو ته د انټرنيټي خدماتو رسول.

## 6. 10- شپږمه لويه مؤخه:د زيربنآوو وده او پراختيا:

د تحصيلي بنسټونو د علمي پرمختګ او معيارونو سره د وصل لپاره لومړنی ضرورت زيربنآوي دي، ځکه د چارو د تر سره کولو لپاره لازمي برېښي چې بايد مناسب اداري، تدريسي، څېړنيزي او نوري وداني شتون ولري، چې د ودانۍ نه شتون په اصل کښي د

علمي پرمختګونو په وړاندې یو اساسي خنډ دئ او برعکس د مناسبو زیربنآیي امکاناتو او سهولتونو موجودیت د علمي پرمختګ لپاره اساسي ستون تشکیلوي. باید ووایو چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د تیر وخت څخه په زیربنآیي اړخ کښې زیاتي ستونزې لري او د تعمیراتو د کمي سره مخ ده، نو په همدې خاطر په راتلوونکې پنځه کلنو کښې یو لړ کړنې په نظر کښې نیول سوي دي چې په لاندې ډول یادونه څیني کیږي.

1) د روانو تدارکاتي پروژو نظارت او ارزیابي تر سره کول او د مالي امکاناتو برابرول.
2) د مؤسسي پر پنځه سوه جریبه ځمکه باندي د احاطوي دېوال را ګرځول.
3) د اوبو رسوني د یوې شبکې جوړول.
4) د مؤسسي د 500 جریبه ځمکې لپاره ماسټر پلان جوړول.
5) د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره د یوې تدریسي ودانۍ جوړول.
6) د کرهنې پوهنځي لپاره د یوې تدریسي ودانۍ جوړول.
7) د یو باب مسجد د ودانۍ جوړول.
8) د نارینه محصلینو لپاره د لیلیې ودانۍ جوړول.
9) د کمپیوټر ساینس پوهنځي لپاره ودانۍ جوړول.
10) د کرهنې پوهنځي لپاره د تحقیقاتي فارم د ودانۍ او لازمو توکو پروژه تطبیقول.
11) د عمومي لابراتوار لپاره د یوې ودانۍ جوړول.
12) د شرعیات پوهنځي لپاره د تدریسي ودانۍ جوړول.
13) د عمومي کتابتون لپاره د یو ودانۍ جوړول.
14) د غونډو یو عمومي تالار د ودانۍ جوړول
15) د محصلینو د ورزش لپاره د لازمو میدانونو جوړول.
16) د PDC مرکز لپاره د یوې ودانۍ جوړول.
17) د جمنازیم ودانۍ جوړول.
18) معیاري میدیا سنټر جوړول.
19) د محصلینو او شخصي نقلیه وسائطو لپاره د تمځای جوړول.
20) د یوې چاپخونې جوړول
21) د زرغون چاپیریال جوړول.
22) د لابراتوارونو پراخول نوي لابراتوارونه رامنځ ته کول.
23) د یو غټ ګودام جوړول.
24) د ښکلا په مؤخه د یو فواري جوړول.
25) د یوې غټې ټانکې جوړول.
26) د عایداتي منابعو پېژندنه او د عوایدو د راټولولو لپاره وړاندې کول.

## 7. 10- اوومه لویه مؤخه: کادري او اداري کارمندانو ظرفیت لوړول:

د بشري قوې د موجودیت وروسته د هغوی لوړ ظرفیت د تحصیلي نهادونو خورا اساسي اړتیا ده چې باید په مکرر ډول پام ورته وسي او په مسلکي برخه کښې یې دوامداره او د مارکېټ مطابق روزنه او ظرفیت لوړول یو مهم اصل دی. په دې پوهېږو چې د منابعو سم مدیریت، د خدماتو مؤثره وړاندې کول او د تحصیلي نهاد د اهدافو براورده کول د نورو سهولتونو تر څنګ په لوړ ظرفیت لروونکې بشري قوې پوري تړاو لري، چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو اولیتونو په لیست کښې د اداري او کادري پرسونل د ظرفیت لوړولو ته په بېساري ډول ژمنه ده، او په دې برخه کښې یې په راتلوونکې پنځه کلنو کښې یو شمېر فعالیتونه په نظر کښې نیولي دي چې په لاندې ډول یادونه څیني کیږي.

1) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي اړوند استادانو ته د ماسټر او دوکتورا زمینه برابرول.
2) د څانګو، پوهنځیو او مؤسسي رهبري هئیت ته د رهبرۍ اړوند سمینارونو او ورکشاپونو زمینه برابرول.
3) د مؤسسي اړوند ټولو اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني په برخه کښې کار کول.
4) د ټولو پوهنځیو کادري پرسونل ته د OBE_SCL د ورکشاپ زمینه برابرول.
5) د مؤسسي د نوي ستراتیژیک پلان په اړه محصلینو، اداري کارکوونکو او استادانو ته د پوهاوي پروګرامونه برابرول.
6) د اکادمیک محیط سره د بلدتیا په مؤخه محصلینو ته بیلابیل سمینارونه وړاندې کول.
7) محصلینو ته د څلورګونو ژبو( پښتو، دري، عربي او انګلیسي) زده کړیز کورسونه برابرول.

8) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې کادري غړي بېلابېلو علمي کنفرانسونو، سپوزيمونو او زده کړيزو برنامو ته معرفي کول.
9) د څېړنو، نوښتونو او اثارو د ليکنې په برخه کښې د مؤسسې کادري پرسونل او محصلينو ته سمينارونه او ورکشاپونه برابرول.
10) د علمي سير او لابراتواري تجريبو په مؤخه يو شمېر محصلين نورو پوهنتونونو ته معرفي کول.
11) د لوړو زده کړو وزارت له لوري دائرېدونکو سمينارونو/ورکشاپونو ته مربوطه کسان معرفي کول.
12) د دېني احکامو د زده کړې په مؤخه د مؤسسې ټول اداري او کادري پرسونل او محصلينو ته د پوهاوي پروګرامونه په لاره اچول.

## 8. 10- اتمه لويه مؤخه: د تخنيکي او حقوقي سندونو تعديل، تآليف او بيا کتنه:

دا چې د هيواد ټول قوانين او تخنيکي سندونه په خاص ډول د لوړو زده کړو په برخه کښې د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو تر صلاحيت لوړه موضوع ده او په دې برخه کښې د لوړو زده کړو بنسټونه يوازې د يو مشورتي ارګان په ډول مسؤليت لري ( البته که لوړه مرجع وغواړي)، نو په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه به د لوړو مقاماتو ( ولايتي اداره يا د لوړو زده کړو وزارت) په غوښتنه په ذکر سوي برخه کښې حتمآ د خپل بشري قوې څخه په استفادې همکاري کوي او د يو مسؤليت منونکي ارګان په څېر به غوښتنو ته رسيدګي کوي.

بايد ووايو چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه به د هيواد په کچه د ټولو نافذه قوانينو سره د بلدتيا په برخه کښې خپلو د ټول اداري او کادري پرسونل، محصلينو او ښکيل اړخونو شکونه ليري او د پوهاوي په پار به يې ګامونه اوچت کړي او همدارنګه بايد ذکر سي چې ارزګان د لوړو ز ده کړو مؤسسه به په خپل داخل کښې د ټولو هغه کړونو لپاره چې د لوړو زده کړو وزارت په قوانينو کښې يې تعريف موجود نه وي لازم ميکانيزمونه ترتيب او د معتبرو مجالسو کښې تر تآئيد وروسته تطبيق کړي.

## 9. 10- نهمه لويه مؤخه:د علمي او غيري علمي بنسټونو سره اړيکو ته وده او پراختيا ورکول:

اړيکې د تحصيلي بنسټونو لپاره د پوره اهميت څخه برخمني دي، همدا اړيکې دي چې په واسطه يې سالم رقابت ته لاره هواريږي، همدا اړيکې دي چې په واسطه يې تجربيي انتقال مومي، همدا اړيکې دي چې قوتونه او امکانات يې سره شريک کيږي، نو د اړيکو ذکرسوي ارزښت ته په کتو سره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د پيله تر اوسه پورې هڅه کړې ده چې اړيکې وسيع او پياوړې کړي، چې په دې لړ کښې يې د هيواد معتبره او پياوړي تحصيلي بنسټونو سره اړيکي رسمي چينل ته اچولي او همدارنګه يو شمېر سکتوري رياستونو سره په ولايتي کچه د همږغی، دوه اړخيزه همکاري او مشورې لارې پرانيستي دي او تفاهم ليکونه ورسره امضآ سوي دي، چې د دې لړۍ په تداوم ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکي پنځه کالو کښې لاندي تواميتونه په نظر کښې لري.

### 10.9.1- اړيکې:

1) د بهرنيو اړيکو د کمېټې حمايه او پياوړي کول.
2) د سوي تفاهم ليکونو د تطبق په مؤخه لازم اقدامات تر سره کول.
3) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړتياوې په نښه کول، د همکارو اداراتو سره شريکول او د مرستو راجلبول.
4) د اړتيا په صورت کښې د نورو تحصيلي بنسټونو سره د اړيکو د کانالونو رامنځ ته کول.
5) د سکتوري اداراتو سره د تواميتونو لاسليکول.
6) د غيري سکتوري ادارتو سره د همکارۍ د کانالونو رامنځ ته کول.
7) د کمېټو غړو ته د ارزګان ولايت څخه د باندې نورو ولاياتو ته د سفر زمينه برابرول.
8) په عموم کښې هڅه کول، څو اړيکي پياوړي، ځانګړي، هر اړخيزه او مفيدې سي.

### 10.9.2- په ټولنه کښې ونډه اخستنه:

دا يو څرګنده خبره ده چې د پوهنتونونو/لوړو زده کړو مؤسساتو اساسي دنده په ټولنه کښې مثبت انقلاب رامنځ ته کول او د ټولنې د ستونزې تحليل او د حل په وړاندې يې مسؤليت منل دي، هڅه کول دي چې بايد مسؤلانه د ستونزو د حل په مؤخه په ټولنه کښې ښکېل اوسي او برعکس که چيرې د ټولنې سره فاصله رامنځ ته سي، نو په هغه صورت کښې تحصيلي نهاد خپل لرليد ته د رسيدو په هڅه کښې ناکام کيږي او بلاخره د يوه نهاد ارزښت صفر ته تقرب کوي، نو د دې لپاره چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې ارزښت پر ځاى وي او په ټولنه کښې فعاله ونده ولري په راتلونکي پنځه کالو کښې لاندې کړنې په نظر کښې نيول سوي دي.

1) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د علمي څېړنو نتايج د سکتوري برخو سره شريکول.
2) يو شمېر امارتي او خصوصي اداراتو ته بلاعوضه د الکترونيکي سيستمونو ډاټا بيسونو جوړول.

3) په هر سمستر کښې یو ځل ولایتي د ویني بانک ته وینه ورکول.
4) د پاک ښار تر نامه لاندي د مربوطه ریاستونو سره عمومي حشر کښې ونده اخستل.
5) په ملي پروګرامونو کښې د استادانو او محصلانو په وسطه د علمي مقالو وړاندي کول.
6) په ولایتي کچه د ستونزو په نښه، تحلیل، تجزیه او د حل لاري د پیدا کولو وروسته د مربوطه سکتور سره شریکول.
7) په ملي کمپاینونو کښې مربوطه برخو ته د محصلینو معرفي کول.

## 10.10- لسمه لویه مؤخه: محصلان ته خدمات وړاندي د غوره استعداونو تولید او لوړو زده کړو ته په عادلانه توګه لاس رسی:

خپلو هیوادوالو ته په مساوي ډول د لوړو زده کړو زمینه برابرول د لوړو زده کړو د بنسټونو اساسي دنده ده او په دې برخه کښې په واضیح ډول عمل کول د لوړو زده کړو د مؤسساتو مسؤلیت دئ، چې دي مسؤلیت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلوونکي پنځه کالو کښې یو شمېر فعالیتونه په نظر کښې لري، چې په لاندي ډول یادونه ځیني کیږي.

### 10.10.1- لوړو زده کړو ته پراخ لاس رسی:

د یوه هیواد د وګړو حق جوړیږي چې په خپل هیواد کښې لوړو زده کړو ته اسانه او په پراخ ډول لاس رسی ولري، او همدارنګه دولتونه هم مکلفیت لري چې د خپلو هیوادوالو د وړتیا را سپړلو او پیاوړي کولو په مؤخه لوړو زده کړو ته د هغوی لاس رسی پراخ او زمینه ورته برابره کړي، چې په همدې اساس ارزګان د لوړوز ده کړو مؤسسه هم د خپلو مسؤلیتونو په درک سره هڅه کوي چې د هیواد د ځوانانو او لوړو زده کړو د شایقینو لاس رسی ذکر سوي نهاد ته زیات کړي چې په راتلوونکي پنځه کلنو کښې یو شمېر کړني په لاندي ډول تر لاس لاندي نیسي.

1) د لوړو زده کړو په وړاندي د منفي نظر د لمنځه وړولو په پار د عامه پروګرامونو په لاره اچول.
2) د علمي پروګرامونو په اړه ښکیلو برخو ته پوره پوهاوی ورکول.
3) د کانکور د ازمویني په پروسه کښې د شفافیت او عادلانه تطبیق په مؤخه همکاري کول.
4) د اړتیا وړ نوي علمي برنامي ایجادول.
5) د محصلینو د جذب ساحه پراخول.
6) د هر ډول فساد/توپیریز چلند څخه د خلاصو خدماتو وړاندي کول.
7) په مؤسسه کښې د شته برنامو څخه مؤثره استفاده کول.
8) د خپلو ټولو علمي کړونو او لاسته راوړنو په اړه د بېلابېلو تګلارو څخه په استفاده هیوادوال خبرول.
9) په مؤسسه کښې د محصلینو د تحصیلي حقوقو په وړاندي د هر ډول خنډ له منځ وړل.
10) د مؤسسي د علمي ازادی او انصاف او عدالت پالیسیو تطبیقول.
11) د لوړو زده کړو وزارت ته د داخل الخدمت او پوهني ریاست د معلمانو د سویه د لوړولو په خاطر وړاندیزونه کول.
12) د پوهني ریاست سره په همږغی د کانکور د چمتوالي پروګرامونه په لاره اچول.

### 10.10.2- د کریډیټ سیستم تطبیق:

د هیواد په ټولو تحصیلي بنسټونو کښې د نړی د نورو هیوادونو په شان د کریډیټ په سیستم برابر تحصیلي خدمات وړاندي کیږي، چې دا سیستم په نړی کښې یو منل سوی او د مؤثریت په اساس په اوج کښې قرار لري، او د همدې سیستم په تطبیق سره د استادانو تر څنګ محصلینو هم ښکیل دي او د نظري درسي نظام سره سره عملي کړني هم د کریډیټ په سیستم کښې یو مسؤلانه امر دئ چې باید ټول اړخونه او ښکیلي برخي ورته متوجي وي.

نو د کریډیټ سیستم نړیوال او ملي اهمیت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو راتلوونکو پنځو کالو په جریان کښې د همدې سیستم د پیاوړتیا او تطبیق په مؤخه لاندي کړني تر سره کوي.

1) د کریډیټ سیستم سره د بلدتیا په مؤخه د مؤسسي استادانو او محصلینو ته لازم سمینارونه برابرول.
2) د عملي کارونو لپاره لازمي اسانتیاوي رامنځ ته کول.
3) د OBE_SCL د میکانیزم تطبیقول.
4) د پایلو پربنسټ او محصیل محوره زده کړو ترویجول.
5) د کریډیټ سیستم د تطبیق څخه په منظمه توګه نظارت تر سره کول.

6) په عموم کښې هغه کول څو ټول تدریسي خدمات د کریډیټ د سیستم مطابق ارجراء سي.

### 10.10.3- د محصلانو د خدماتو پیاړوي کول:

دا چې د تحصیلي نظامونه اساسي د تآثیر نقطه محصیل دئ نو لازمي بلل کیږي چې ټوله فزیکي او غیري فزیکي سرمایه ګذاري پر محصیل تر سره سي، څو تحصیلي بنسټ په لوړ کیفیت تولید (محصیل) ولري چې همدې تولید یې د ټولني د دردونو دوا او د لاپرمختګ تضمین کوي، باید ووایو چې د بل پلوه د محصلینو یوازي مسلکي روزنه د تحصیلي بنسټونو مسؤلیت نه دئ او نه د محصیل لپاره بسنه کوي، بلکي لازمي بریښي چې د نړیوالو نورمونو مطابق محصلین د ژوند په نورو اړخونو لکه ټولنیز فعالیتونه، سالم رقابت، نرم مهارتونه او داسي نورو کښې هم و روزل سي، چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسي اداره په خپل راتلوونکي پنځه کلن پلان کښې د محصلانو لپاره د لاندي خدماتو د وړاندي کولو هوډ لري.

1) د نرم مهارتو په اړه سمینارونه دائرول.
2) د Technical writing په اړه سمینارونه دائرول.
3) د علمي سیالیو په لاره اچول
4) بیلابیل ورزشي تورنمینټونه په لاره اچول.
5) د Internship د پروګرام پیاوړي کول.
6) په کتابخونه کښې د محصلانو لپاره د مطالعې زمینه برابرول.
7) د محصلانو شکایاتو ته رسیدګي کول.
8) د څلور ژبو ( پښتو، دري، عربي او انګلیسي) کورسونه په لاره اچول.
9) د علمي سفرونو لپاره زمینه برابرول.
10) د ترانسپورټ سهولت رامنځ ته کول.
11) د بدل عاشه سره سره د محصلانو لپاره د اوسېدو د ځاي زمینه برابرول.

## 11.د چاپیریال تحلیل:

